HSE ملي معافيت دفتر

# خناق

## خناق څه شي دي؟

خناق يوه ناروغي ده چې د باکتريا له امله رامنځته کيږي چې *کورينباکتيريم ډيفتيريا* ( *Corynebacterium Diphtheriae)* ورته ويل کيږي. دا باکتريا د يو اخته کس په خوله، ستوني او پوزه کې موندل کيږي.

ډيپتيريا يا خناق يو پياوړی ټاکسين (زهر) جوړوي کوم چې په ټول بدن کې غړي او نسجونه خرابوي.

## خلک په خناق څنګه اخته کيږي؟

هغه باکتريا چې د خناق لامل کيږي د اخته کس په خوله، ستوني او پوزه کې موندل کيږي. دا باکتريا په هوا کې د ټوخي يا پرنجی د رطوبت د څاڅکو په واسطه په اسانی سره نورو ته خپريږي.

## د خناق نښې څه دی؟

د خناق لومړی نښه معمولا د ستوني خوږ دي او په تيرولو کې ستونزمن احساس کيږي.

نورې عامې نښې د ټيټي درجې تبه، زړه بديدنه، کانګې، سر درد او د زړه تيز ضربان دی.

خناق په تيرولو کې د ستونزو، ساه لنډی، د زړه ناکامی او فلج لامل کيدای شي.

په اختلاطاتو کې شامل دی

- د زړه ناکامي
- فلج
- شديد تنفسي ستونزې
- په تيرولو کې ستونزه
- مړينه.

خناق يوه جدي ناروغي ده. هغه کسان چې په خناق اخته وی په 20 کې 1 مړ کيږي.

## څوک بايد د خناق واکسين وکړي؟

د واکسيناسيون په واسطه د خناق مخنيوي کيدای شي.

د خناق واکسين 6 په 1 واکسين کې د برخې په توګه د 2، 4 او 6 مياشتو په عمر کې ماشومانو ته ورکول کيږي.

6 په 1 واکسين کې د خناق، هيپاتيت بی، Hib (د هيموفيلس انفلوينزا بی) ټوخله (شنه ټوخله) پوليو او تيتانوس څخه خونديتوب کوي.

پياوړی کوونکي واکسين دوز د 4-5 کلونو په عمر کې4 په کې1 واکسين کې د برخې په توګه ورکول کيږي کوم چې د خناق، ټوخله (شنه ټوخله)، پوليو او تيتانوس په وړاندی ساتنه کوي.

د Tdap واکسين د برخې په توګه د دويمي درجې ښوونځي په 1 کال کې يو بل بوسټر يا پياوړی کوونکي دوز ورکول کيږي چې د خناق، ټوخله (شنه ټوخله) او تيتانوس په وړاندې پياوړي کوي.

که ستاسو ماشوم واکسيناسيون ته اړتيا ولري، يا که تاسو د خپل ماشوم د واکسيناسيون وضعيت څخه داډه نه ياست، د مشورې لپاره د خپل GP سره اړيکه ونيسئ.

د خناق په وړاندې واکسين کول خورا مهم دی په تير کال کې په انګلستان او په اروپايي اتحاديې هيوادونو کې د خناق پيښې مخې ته راغلی دی که چيرې خلک واکسين نشي دا به بيرته راشي.

## څوک بايد د خناق واکسين ونکړي؟

ډير لږ خلک داسي شته چې بايد د خناق واکسين ونکړي. ستاسو ماشوم بايد واکسين ونه کړي که چيرې دوی ته د واکسين د پخوانی دوز يا د واکسين کومې برخې څخه شديد د حساسيت عکس العمل (anaphylaxis) شوي وی.

## د خناق واکسين کولو وروسته څه تمه وکړئ؟

د واکسين کولو يا لګولو وروسته، ستاسو ماشوم ممکن د هغه ځای په شاوخوا کې ناارامی، سوروالی يا پړسوب ولري چيرې چې انجيکشن ورکړل شوی و. دوی کيدای شي بې قراره وی او تبه ولري.

که دا پيښ شي تاسو کولی شئ دوی ته پاراسيتامول يا ايبوپروفين ورکړئ. تاسو بايد دوی ته ډير څښاک هم ورکړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی ډير ګرم نه وی او دا چې د دوی جامې د انجيکشن ځای نه مږي.

ماشومان معمولا په يوه يا دوه ورځو کې دننه د دې کوچني جانبي عوارضو څخه رغيږي

د هغو ماشومانو څخه چې واکسين شوي دي،

- په 10 کې 1 به ناارامی، سوروالی او پړسوب ولري چيرې چې انجيکشن ورکړل شوی وي يا به تبه ولري.

جدي جانبي عوارض خورا نادر دی.

## د خناق واکسين څنګه کار کوي؟

د خناق واکسين د دې ټاکسن يا زهر په وړاندې د معافيت په ورکولو سره ماشومان خوندي کوي کوم چې د ناروغۍ نښې رامنځته کوي، نه دا چې پخپله باکتريا ته معافيت. لکه څنګه چې دا په زهر باندې عمل يا کار کوي، نو دې ته ټاکسايډ ويلرکيږي.

## واکسين څومره اغيزمن دی؟

د دې واکسين بشپړ کورس د 95% خلکو لپاره د خناق په وړاندې ښه محافظت وړاندې کوي. هغه خلک چې د خناق څخه واکسين شوي وي کيدای شي بيا هم په ستوني کې باکتريا ولري. دا پدې مانا ده چې په داسې حال کې چې دوی خوندي دي کيدای شي بيا هم باکتريا هغه خلکو ته انتقال کړي چې واکسين شوي ندي او کوچني ماشومان دی.

## چيرته کولی شم نور معلومات ترلاسه کړم؟

د يو باوري د روغتيا مسلکي سره خبرې وکړئ او www.immunisation.ie ته مراجعه وکړئ